## مطبوعاتي اعلامیه

## په یهودي زندانونو کې ښځې شکنجه او سپکاوی یې کېږي... ایا په امت کې معتصم شته!؟

د فلسطین د بندیانو کلپ تایید کړه، چې د دامون زندان ادارې د زنداني ښځو پر وړاندې پر له پسې له شکنجو ډک عملیات تر سره کړي، چې څو ورځې وو او لا هم دوام لري. دوی وهل شوې، ځړول شوې او ځینې یې ټپیانې شوې هم دي. د ښځینه زندانونو استازې شوروک دویکات، ماره بکیر او زندانۍ مونا قادان منزوي شول. د زندانیانو کلپ په ډاګه کړه، چې د مکررو بریدونو په ترځ کې د دوی برښنا قطع شوې او ټیکري یې له سره لیرې شوي دي. یوې زندانۍ د شکنجې پر مهال خپل هوش له لاسه ورکړی او د زندان اداره یې د ګاز په پاشلو تهدیدوي، د زندان ادارې پر دې هم اکتفا نه ده کړې، د ډله ییزو مجازاتو په تر سره کولو یې دوی له یو بل سره له کتلو او د خوړو له خوړلو محروم کړې او ان نغدي یې جریمه کړي دي. د زندانیانو د کلپ د راپور له مخې، د تېرې نومبر میاشتې تر پایه پورې د ښځینه بندیانو شمېر ۳۲ تنو ته ورسېد. کلپ په ډاګه کړه چې د زندان ادارې له لوري د ناوړه چلند پروسه وروسته له هغه رامنځ ته شوه، کله چې بندیانو د دوی پر وړاندې د ادارې له لوري اعلان شوي نوي اقدامات رد کړل.

د یهودي ادارې په زندانونو کې پر ښځینه بندیانو بریدونه کېږي او شکنجه کېږي، د ځوان او زوړ، نارینه او ښځینه توپیر نه کوي، د زندانونو په داخل او بهر کې ښځینه بندیانې شکنجه او ځورول کېږي، تر دې چې د زندان ساتونکو جرأت وکړ، چې له بې دفاع ښځینه بندیانو سره ناوړه چلند وکړي او ټیکري یې له سرونو لیرې کړي، لاحول ولا قوة الا باالله العظیم. د ښځو پر وړاندې دا ټول جرمونه او سرغړونې ترسره کیږي، خو موږ یې په اړه د ښځو د سازمانونو او د CEDAW مدافعینو غږ نه اورو، ځکه چې ښځینه بندیانې د دوی په لومړیتوبونو کې نه دي، بلکې دوی د خپلو مفسدو پروګرامونو پر پلې کولو لګیا دي.

ایا دا بریدونه کافي نه دي چې د اسلامي امت په رګونو کې وینه په جوش راولي، چې د نر او ښځې د خلاصون لپاره د خپل فرض کار یادونه وکړي. نه یوازې د فلسطین اداره، بلکې په اسلامي هېوادونو کې رژیمونه له یهودي دولت سره د خپلو اړیکو پر عادي کولو ماتې خوړلې او د دسیسو ښکار شوي دي. له دوی څخه د مظلوم د خلاصون او ملاتړ هېڅ هیله نه کېږي. موږ ډاډه یو چې دوی په یوه کمپ کې دي او واکمنان یې په بل کمپ کې دي.

يهودي دولت د دغو جنايتونو د ترسره کولو جرأت نه شواى کولاى، که چېرې په مسلمانانو کې د معتصم په څېر يو حاکم واى، چې د روميانو له خوا د نيول شوې مسلمانې ميرمنې د ژړا په ځواب کې يې لوى لښکر چمتو کړ. د مسلمانې ښځې له سر څخه پړونى ليرې کول د نه بښلو وړ جرم دى او د هغه سزا ډېره لويه ده، لکه څنګه چې رسول الله صلى الله عيه وسلم بنو قنيقاع ته ورکړه او هغوى يې له مدينې وشړل.

**اې د مسلمانانو لښکرو:** په تاسو کې به څوک دا ستر عزت تر لاسه کړي؟ چې د الله تعالى د دين او د هغو چا ملاتړ وکړي، چې د نبوت پر منهج راشده خلافت د تاسيس لپاره کار کوي. پوه شئ چې سبا به له الله سبحانه وتعالى سره ملاقات کوئ او هغه به له تاسو څخه پر مظلومانو د ظلم او د هغوى د فريادونو پر وړاندې د ناکامۍ حساب وکوي، آيا د دې ورځې لپاره ځواب ته چمتو يئ!؟

**{وَإِنْ اسْتَنصَرُوكُمْ فِي الدِّينِ فَعَلَيْكُمْ النَّصْرُ}**[انفال: ۷۲]

**ژباړه:** *که هغوى د دين په اړه له تاسو څخه مرسته وغواړي، نو د هغوى مرسته کول پر تاسو فرض دي.*

**د حزب التحرير- مرکزي مطبوعاتي دفتر د ښځو برخه**

**۱۴۴۳ هـ.ق، د جمادي الاول ۲۸مه**

**۲۰۲۲م، د جنوري ۱**

**د صدور ګڼه: ۱۴۴۳/۰۲۰**